PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او زموږ په پیدایښت کې داسې امت هم شته چې د حق په لور ښوونه کوي او تل د حق په تله پرېکړې کوي او کومو کسانو چې زموږ آیتونه دروا‌غ ګڼلي موږ به یې پورې په پورې داسې ونیسو چې هغوی به پوه هم نه شي. اوس هغوی ته وخت ورکوم. زما تدبیر خورا پیاوړی دی.
(سورة اعراف : ۱۸۱ - ۱۸۳)

درس حدیث

از انس رضی الله عنه روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که دوست بدارد اینکه روزی اش فراخ گردیده و عمرش طولانی گردد، باید صلهء رحمش (پیوستگی با نزدیکان) را پیوسته بدارد. (متفق علیه)

شهادت خلورم کال، ۱۰ مه ګڼه، پرله پسې ۱۲۱ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د غبرګولی ۲۴ مه د۱۴۳۳ هـ ق د رجب المرجب ۲۳ مه د۲۰۱۲ م د جون ۱۳ مه

د حزب اسلامي افغانستان د سولې او ملي یووالي غونډه

- زموږ د ګران هېواد او هېوادوالو د ستونزو د حل یوازېنۍ لار سوله او ملي یووالی دی
- د سولې او ملي یووالی لپاره د حزب اسلامي افغانستان غړږ ټولو اسلامي، ملي ګوندونو او شخصیتونو ته پرانستی ده
- حکومت باید راتلونکې رڼې او شفافې ټاکنې د ملت د باور وړ وګرځوي "ارغندیوال"
- له چارواکو مې هیله ده چې نور په ولس کې د مور او میرې سلوک پرېږدي
- چارواکي دې نوره د کورنیو مهاجرتونو لړۍ بنده کړي
- موږ د فدرالي نظام پرځای قوي مرکزي نظام د خپل هېواد او هېوادوالو په ګټه بولو "همدرد"

دریم مخ

کرزی:

مخالفت با حکومت نباید مخالفت با منافع ملی باشد

مخالفت با حکومت. نباید مخالفت با سرمایه گذاری های مهم خارجی در افغانستان باشد؛ مخالفت با حکومت. نباید به تشویق ناامنی در افغانستان باشد

کابل، رسانه ها:
رییس جمهور حامد کرزی از مخالفین سیاسی حکومت خواست که در مخالفت با حکومت، خلاف منافع ملی کشور عمل نکنند.
حامد کرزی رییس جمهور افغانستان، دیروز طی یک نشست خبری در کابل گفت که در تمام جهان مخالفین سیاسی حکومت وجود دارند که در چوکات احزاب سیاسی و شوراها فعالیت می کنند.
وی در ادامه افزود: "اپوزیسیون حق دارند که هرعمل حکومت را با دید انتقادی ببینند و انتقاد کنند و یک روش بهتر را پیشنهاد کنند؛ اما مخالفت با حکومت، نباید مخالفت با کشورباشد؛ مخالفت با

بقیه در صفحه ۴

اگر اتهامات علیه جنرال دوستم درست ثابت شود. به اعدام یا حبس ابد محکوم میشود



کابل، رسانه ها:
لوی څارنوالی افغانستان می گوید که بررسی ها را در مورد قضیه دخالت جنرال عبدالرشید دوستم در امور استخراج نفت حوزه آمو دریا آغاز کرده است.
رحمت الله نظری معاون لوی څارنوالی افغانستان در یک مصاحبه اختصاصی با رادیو آزادی گفت که این اقدامات را پس از آن روی دست گرفته است که شورای امنیت ملی با ارسال نامه ی خواهان پی گیری این مساله شده است.
لوی څارنوالی افغانستان می گوید در صورت اثبات جرم بالای جنرال عبدالرشید دوستم، وی به حبس ابد و یا اعدام محکوم خواهد شد.
این اداره می گوید که تحقیقات را در مورد دوسیه آقای دوستم مبنی بر ایجاد موانع بر سر راه استخراج معادن در صفحات شمال کشور و باج گیری از شرکت ها آغاز کرده است.
رحمت الله نظری معاون لوی څارنوالی افغانستان به روز دوشنبه در یک صحبت اختصاصی با رادیو آزادی گفت که

بقیه در صفحه ۴

له چا څان وساتو او په چا څان وساتو؟!

عبدالله کامه وال

د لسو کلو راپدېخوا د یوې نامعلومې او پردۍ جګړې ښکار یو، نه پوهېږو جګړه دچا ترمنځه، اصلي لوبغاړي څوک دي؟ او موږ نه ولې د جګړې د خاشاکو په توګه کار اخیستل کېږي؟
په روانه لسیزه کې مو نه دوستان مو معلوم شو او نه په دې پوه شوو چې دښمني مو له چاسره ده، په څه ده؟ له چا څان وساتو او په چا څان وساتو؟! د کوم جرم په تور وژل کېږو او دا وژنه به تر کومه دوام لري؟ او دې لوبې ته به د پای ټکې څه وخت کېښودل کېږي؟

پاتې دوېیم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

بیزاری اعضای کانگرس امریکا از نظام حاکم بر افغانستان

در شماره های قبلی این هفته نامه از سقوط مرگ بار حکومت نگوین وان تیو در جنوب ویتنام و اینکه چگونه امریکا پس از سوق بیش از نیم ملیون سپاه مجهز و بالغ بر ده سال جنگ و قربانی نظامیان خود و تحمیل قتل و کشتار بر ملت های ویتنام، کمبودیا و لائوس بالاخره میدان مبارزه را خالی گذاشته و سیگون را به هجوم وحشتناک کمونیست ها تنها گذاشت یادآور شدیم. و حکام کابل را برحذر داشتیم بر ادامه حمایه غرب از نظامی که همه جهانیان بر فساد آن اتفاق دارند مغرور نباشید، همین اکنون ما شاهد همان مظاهرات و احتجاجاتی هستیم که ملت امریکا بخاطر خاتمه حضور نیروهای شان در ویتنام براه انداخته بودند.

اما ! مسؤولیت تسلط نظام فاسد موجوده بر افغانستان بدوش همان چند کلاه هائی است که در کنفرانس ۲۰۰۱ بُن مغرورانه در دهلیزهای قصر ......، لمن الملك اليوم سر میدادند و از طرف غرب بسیج شده بودند بخاطر دارم که از طرف کنفرانس قبرص آقای دکتور جلیل شمس پیشنهادی را به مجلس انتقال داد که حاکمان نظام مؤقت در نظام انتخابی دوره اول نباید حصه گیرند اما آقای اخضر ابراهیمی ناآگاه در امور افغانستان شاید از ناآگاهی و یا شاید شمول در کدام توطئه این پیشنهاد را به شدت رد کرد. انتظار داریم روزی ویکی لیکس و یا پخش اسناد محرمانه وزارت خارجه و استخبارات کشورهای غربی بما واضیح سازد که اخضر ابراهیمی در بدل این خوش خدمتی دوام فساد در افغانستان از کدام مرجعی چه تحفه و امتیازی بدست آورده باشد.

دوام این توطئه علیه ملت افغانستان تا امروز جان هزاران افغان و نیروهای نظامی خارجی را گرفته است. آنهائی که پس از این همه قتل و کشتار به خطای خود پی برند قابل محاکمه و جبران خساره در برابر همه ملت های صدمه دیده اند چه ملت های خود شان و چه ملت مظلوم و ستم کشیده افغانستان.

جرم حاکم ساختن یک مشت بی خبر از حتی حدود اربعه و تاریخ معاصر افغانستان تنها با داشتن امتیاز چند کلمه بی ربط و غیر ادبی انگلیسی و آشنائی نیم بند با کمپیوتر بر مقدرات این سرزمین به دوش آنهائی است که نمیتوان مسؤولیت آوردن هرج و مرج تاریخ ده ساله دهه هفتاد را هم از آنها نفی نمود.

همین ها بودند که مجرمین جنگی و جنگ سالاران جنایت کار و ملیشه های بدنام و وطن فروش را بخاطر همکاری در جنگ بر ضد طالبان بر مقدرات این کشور مسلط ساختند که ریشه های فساد و مافیا را بالآخره از زیر پای آنها می توان رده یابی نمود، اکنون همین ها اند که بخاطر دوام امتیازات خود ملت ما را بر گلیم ماتم نشانده اند.

هر گاه خشت اول نظام مؤقت از طرف همین معماران مغرض کج گذاشته نمی شد، هیچگاه فامیل آقای کرزی جرأت آنرا نمی یافت که بجای حامد جان، قیوم جان را نامزد ریاست جمهوری دوره آینده نماید و به امید آن باشد که می تواند با استفاده از امکانات ریاست جمهوری برای آینده کشور زعامت را میراثی سازد. و ملتی را که پیش از ده سال است زیر آتش نیروهای خارجی می سوزد و ناله آن را جهانی یا بی باکی می شنود، یا خون آنها پامال نیروهای اجنبی می گردد و یا آنکه همسایگان با تیم های گماشته خود شان قربانی واسکت های انتحاری و یا مواد منفجره بنمایند، باز هم یا تحمیق کنان در پره ای بیندازند و فجار برای بدست آوردن امتیاز خود چشمان ملت را کور سازد و یا آنکه کمیسیون انتخابات فرمایشی و انتصابی آقای کرزی با شعبده بازی خاصی در آینده نیز برادر آقای کرزی را برنده انتخابات ریاست جمهوری اعلان نماید.

با احساس مسؤولیت در برابر آینده کشور آزاد، متحد، مستقل، معمور و اسلامی افغانستان از نظام موجوده مسلط بر مقدرات کشور می خواهیم بجای آنکه بر دوام تسلط شان تسلطی که دوستان و مؤیدان دیروزی شان هم آنرا فاسد می خوانند دست برداشته و نخواهند که اعمال و تصرفات آنها افغانستان را از صحنه سیاست جهانی حذف نموده و کشور ما را دوباره پامال کشورهای آزمند منطقه و درندگی همسایگان سازد زمینهء آنرا فراهم آورند که همه جوانب مطرح سیاسی در کشور در کنار هم با به فراموشی سپردن گذشته های خونبار گرد هم آمده و برای تعین زعامت و نظام آینده نظامی که بتواند جامعه جهانی را مطمئن سازد به تفاهم رسند و افغانستان آسیب دیده از صحنه خونین پایان جنگ سرد حمایهء سیاسی، نظامی و اقتصادی جامعه جهانی را از دست ندهد.

له چا ځان وساتو او په چا ځان وساتو؟!

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

درانه لوستونکې د افغانستان په بېلا بېلو سیمو کې د وسلوالو له لورې له مظلومو افغانانو په بې ګناه وژنه خبر وي او په تېره بیا د کندهار د پنجوایي او د لوګر د بره کې برک دردناکې او غمژنې پېښې چې د نړیوالو تش په نامه سوله ساتو ځواکونو له لورې په تېرو څو اوونیو کې ترسره شوي دي، د ناټو او امریکا اشرګرو قواو چې کله هم زموږ په بې ګناه او مظلومو افغانانو بې رحمه بې مسوولیته اووحشیانه بریدونه کړي نو په لومړي سر کې یې ویلي چې مړه اوژوبل له یوه سره ترهګر اودنظام مخالفین وه اوموږ عملیات دکره معلوماتو په اساس تر سره کړي. خو کله چې دافغان دولت اوخپلواکو رسنیو له لورې له محلي خلکو او چارواکو دپېښې په اړه معلومات ترلاسه شوي نو ثابته شوې چې ژوبل اوشهیدان بې ګناه ملکي وګړي دي چې دترهګرو سره یې هیڅ ډول تړاو نه درلوده نو بیا دې وحشیت فطرته بلواګرو ځواکونو تل په لفظي بخښنه اومطبوعاتي ناسته ځان سپین کړی پېښه یې یوه تخنیکي تېروتنه وګڼلې اودورته پېښو دنه تکرار ژمنه کړی خو په سبا یې له تېرې پېښې بتره،زړه بوږنونکې ا وحشي عملیات ترسره کړي زموږ کورنۍ یې دغم په تغر کېنولې اودپخواپه څېر یې له ورته تکتیکه کاراخیستی بخښنه یې غوښتې ادشهیدانو کورنۍ یې زموږ دچار واکو په واسطه رابللی دسرونو قیمت یې ورته ټاکلې دشهید کورنۍ ته یو لک افغانۍ اودټپي کورنۍ ته پنځوس زره افغانۍ ور کړی شوي زموږ دځایي چارواکو لخوا ملمنو دفضیلت اوپښتونولۍ پګړۍ په سر شوي اوورنه منښه شوې دملمنو له لورې ورسر ژمنه شوې چې دزیانمو خلکو په سیمه کې به د بیارغونې کارونه وکړي سر کونه اوپلونه به یې ورغوي روغتونونه به ورته جوړ کړي اونورې پرمختیایي پروژې به ورته منظورې کړي دتعجب خبره داده له هغه چا چې ژوند واخیستل شي کور یې په وینو رنګ اوکنډواله شي د مور وپلار له نعمته محروم شي اویا هغه پلار چې د خپلو خوږو بچو په وینو رنګ اوتوکړې توکړې اندامونه د خپل ړنګ بنګ کور له پرتو دیوالو نو رابهر کړي اوپرته له پروردیګاره یې دعرض داوریدو بله هیڅ اثره نه وی نو داسې یوڅوک به سرک پول اومکتب دچا لپاره اوڅه لپاره غواړي زه نه پوهیږم دا دکوم انسانیت په کتاب کې راغلي چې ښه بېلګه یې د لوګر پېښه ده.

د روانې هجري میاشتې په ۱۷مه د چهار شنبې په ورځ په داسې حال کې چې کوچنیان لا په خواږه خوب ویده وو، چې له انساني ارزښتونو ناخبره اووحشیت فطرته بلواګرو ځواکونو د لوګر ولایت د برک برک ولسوالی د سجاونډ سیمه کې په یوه کور هوایي برید وکړ او د برید په پایله کې یې د ښځو او ماشومانو په ګډون ۱۸ بې ګناه او بې وسې ملکي افغانان په ډېره بې رحمۍ شهیدان کړه په پیل کې ناټو. ځواکونو ټینګار کاوه چې پرته له دوه میرمنو نور ټول وژل شوي اوټپیان طالبان دي خو وروسته څرګنده شوه چې دپېښې ټول وژل شوي اوټپیان ملکي وګړي دي اوهیڅ طالب اوترهګر پکې نشته داهغه ادعاده چې نړۍ والو اشرګرو دهر برید په پایله کې کړې خو په همغه ورځې یې ادعا دروغ ثابته شوې ما اوریدلي و چې امریکایان له دروغو بد ګڼي او ریالست خلک دي خوله کله نه مو چې ورسره کور اوراشه درشه پیداشوی نو تر دوی دروغجن، بې باکه ،وخشي اومغرور خلک پر مخ دځمکه نشته دوی په خپلو وسلو اوامکاناتو له حده زیات مغرور دی نه یې وعده وعده ده اونه یې په دوستی باور شته خو دوی لکه چې له دې ناخبره دي چې داخاوره خدای هم دې ته پیدا کړې چې دلته مغرو سرونه ښکته کیږي دلته به دظالم زور اوبه کیږي دې خاورې ته چې چاهم کاږه کتلي اوددې مسلمان ولس دایل کولو هڅه یې کړې نو شرمیدلي اوپه تیخته له دې خاورې تختیدلي که هغه هر څوک دي خپل دي اوکه پردي دې کې شک نشته چې موږ خوار اوغریب یو اوپه کوردننه به هم له ګټو ستونزو سره لاس اوګریوان یو خو دیرغلګر اومتجاوز په وړاندې مو په پوره میړانه له دې خاورې دفاع کړې او هر متجاوز ته مو دسر په کاسه کې اوبه ور کړي اولرې نه ده چې د دې ښاغلو انجام هم دنورو په څېر شي .

شاعر وایی:

زما دختو ګټو کور ته دروومه سپک مه ګوره

دلته چې ښکلي هم راځي په احترام راځي

د حزب اسلامي افغانستان د بلخ د غونډې پریکړه لیک

۱۹/۳/۱۳۹۱

د شهادت خبریال د بلخ ولایت د مزارشریف له ښاره راپورت راکوي چې د روان کال د ۱۳۹۱ کال د دریمې نیټې سره سم د مزارشریف په ښار کې یوه ستره غونډه دایره کړه چې د هېواد له زیاترو ولایاتو څخه پکې د حزب اسلامي افغانستان مشرانو او منصوبانو ګډون کړی و. د غونډې په پای کې په لاندې شرحه پریکړه لیک صادر کړ:

بسم الله الرحمن الرحیم

د حزب اسلامي افغانستان د غونډې ټول ګډون کوونکي د وسلوالو نظریاتو او وړاندیزونو ته په درناوي خپل پریکړه لیک په لاندې ډول صادروي:

۱- حزب اسلامي افغانستان سوله او ملي یووالې د ګران هېواد او خلکو لپاره د الهي حکم په حیث یوه مهمه اړتیا بولي او ددې ستر هدف د لاسته راوړو لپاره هر ډول قرباني ورکولو ته حاضر دی.

۲- حزب اسلامي افغانستان سوله او ملي یووالې د ځمکنۍ بشپړتیا څخه د دفاع د کورنۍ جګړې د پای ته رسېدو او پر خپلو پښو د ولاړ افغانستان لپاره ضروري بولي.

۳- حزب اسلامي افغانستان پخپل هېواد کې د هر ډول کرکې او نفرتونو پرخلاف مبارزه کوي او د الهي احکامو او نبوي لارښوونو په رڼا کې خپل ولسونه ملي یووالې ته رابولي.

۴- د حزب اسلامي افغانستان د سولې او ملي یووالی غېږه ټولو افغانانو ته خلاصه ده او په دې لاره کې هر ډول ځان تېرېدنې ته حاضر دی.

۵- حزب اسلامي افغانستان شفافي او رښې ټاکنې د خپلو ولسونو او هېواد لپاره ضروري بولي او له چارواکو غواړي چې د راتلونکو ټاکنو ټوله پروسه د ملت د باور وړ وګرځوي.

۶- حزب اسلامي افغانستان د روان کړکېچ څخه د خپل ګران هېواد د ژغورلو لپاره ټولو جهادي او ملي ګوندونو او ملي شخصیتونو ته بلنه ورکوي چې یوازې!

و یوازې د ملک لوړو ګټو او د شهیدانو د آرمانونو په نظر کې نیولو سره په یو متحد او مرصوص صف کې په راتلونکو ټاکنو کې ګډون وکړي.

۷- حزب اسلامي افغانستان خپل ګران وطن دا د اتلانو ټاټوبي د هېواد د ټولو قومونو پرګنو شریک کور ګڼي او ټولو ته بلنه ورکوي چې یو بل تحمل او د ورورۍ غېږ ورته پرانیزي.

(ومن الله توفیق)

د حزب اسلامي افغانستان د سولې او ملي یووالي غونډه

زموږ خبریال د بلخ ولایت د مزارشریف له ښاره خبر راکوي چې د روان کال (۱۹/۳/۱۳۹۱) نېټه حزب اسلامي افغانستان "د سولې او ملي یووالی" تر عنوان لاندې یوه ستره غونډه دایره کړه، چې د هېواد بېلا بېلو ورونو قومونو پکې ګډون کړی و.

خبریال زیاتوي چې غونډه د مزار ښار په اریانا هوټل کې د سهار په اته نیمو بجو د قاری انجنیر اسدالله "عادل" په تلاوت پیل شوه. ددې تاریخي غونډې د پیل ویناوال جهادي قوماندان، د ولسمشر سلاکار وزیر او د پکتیا والي ښاغلی جمعه خان "همدرد" و. ښاغلی "همدرد" چې پخپله د داخلي مهاجرتونو ته دې د پای ټکی کېږدي، ښاغلی "همدرد" فدرالي نظام د ولس په ګټه ونه باله او پرځای یې د یوه غښتلي مرکزي حکومت پلوي وکړه چې د ټولو هېواد مېشتو قومونو حقوق پکې خوندي وي.

ښاغلی "همدرد" د خپلې وینا په آخر کې له علمای کرامو غوښتنه وکړه چې ولسونه د خپلو دیني موعظو په برکت سولې، ملي یووالي او له هېواد سره مینې ته راوبولي، تر څو مو هېوادوال له ورپېښو غمیزو خلاصون ومومي او په پایله کې یې د یوه خپلواک، پر خپلو پښو ولاړ ځواکمن حکومت او نظام څښتنان شي.

چې په دغه تاریخي ټول ملیتي غونډه کې د اهل تشیع ورونو په استازیتوب جهادي شخصیت ابراهیم "عباسي" د خپلو خبرو په ترڅ کې څرګنده کړه، حزب اسلامي افغانستان مو څکه د خپل جهادي او سیاسي محور په توګه ټاکلی دی چې یوازې د الهي کلمې د لوړاوي او متحد، خپلواک او له هر ډول کرکو او نفرتونو څخه پاک په هېواد کې د سپېڅلي الهي نظام لپاره سپېڅلی مبارزه کوي، نوموړي هغه څوک څخه کېدای شي، څکه حزب اسلامی افغانستان هېواد شموله او د ټولو افغاني پرګنو ګډ کور دی، لکه څنګه چې حزب اسلامي افغانستان د مقدس جهاد د لیکو مخکښ او تر ټولو د سترې ونډې څښتن و، همدغسې به إن شاء الله په دغه ستر او ارزښتمن کار کې هم بریالی شي.

له ښاغلي بارکزي وروسته د حزب اسلامي افغانستان د ځوانانو د ټولنې رئیس ډاکتر سیف الدین "عمرخېل" او د بدخشان پوهنتون

او په عوض کې دې زموږ پر مظلوم ملت د سولې، وروروڼی، ملي یووالي او په پایله کې د الهي مبارک نظام سیوری د خپل فضل او کرم له مخې ولوروي.

ورونو ! موږ ته الله جل جلاله د خپلو قربانیو ستره بدله راکړه او هغه دا چې هېواد مو د سره ښامار له منګولو وژغورل شو او د نړۍ زیاتره مستضعف مسلمان او نامسلمان هېوادونه د کمونېزم له پنجو آزاد او خپلواکۍ ته ورسېدل، زموږ د قربانیو په برکت لویدیځه نړۍ د ساړه پرمصرفه جنګه خلاصه شوه، اوس چې زموږ له هېواد سره کومې مرستې او کومکونه کوي، دا زموږ پر هغوی دی او ظاهراً ددغو ستونزو او مشکلاتو د پای هېڅ څرک په نظر نه راځي. پرته له دې چې موږ افغانانو پخپلو ګرېوانونو کې سرونه کښته او د حل لار یې وسنجوو، بله هېڅ لاره نه لرو او هغه دا چې د خپلمنځي سولې او ملي یووالي لپاره متې را بډ وهو او په دې لاره کې د الله جل جلاله د رضا او د خپل مظلوم ولس د خلاصون او ژغورنې لپاره نه سترې کېدونکې مبارزه وکړو، د سولې او ملي پخولاینې کچکول به که خدای جل جلاله کول تش نه پاتې کېږي.

مجاهدو او مېړنیو ورونو ! د حزب اسلامي افغانستان غېږ ټولو

چې د قومیت، ژبې او سمت په نومونو سیاسي فعالیت کوي دخپل ګران ولس او هېواد په ضرر وېلل.

له ښاغلي عباسي وروسته د جنوب لویدیزې حوزې په استازیتوب جنرال خان محمد خان خپله وینا واوروله او د حزب اسلامي افغانستان د سولې او ملي یووالی د سیاست ملاتړ او ستاینه یې وکړه.

بیا د بغلان له ولایت څخه د سنا د مجلس غړي سناتور الحاج نظرمحمد وینا وکړه او د حزب اسلامي افغانستان د سولې او ملي یووالی د سیاست پلوي یې وکړه، وې ویل چې یواځې حزب محصل فخرالدین پخپل وار ویناوې وکړې او د خپلو جزابو وېناو په ترڅ کې یې د هېواد ټولو لوستو ځوانانو ته بلنه ورکړه چې ددغه ستر او ارزښتمن کار بري لپاره د حزب اسلامي ملاتړ وکړي.

زموږ خبریال لیکي: ددغه تاریخي غونډې وروستی ویناوال د حزب اسلامي افغانستان رئیس او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د اقتصاد وزیر جلالت ماب الحاج عبدالهادي "ارغندیوال" چې کله د دریځ مخې ته راغی د ګډون والو له خوا په پرله پسې ډول د تکبیر په ملکوتي نارو

بلخ ولایت اوسېدونکی دی، د خپلو خبرو په پیل کې یې د غونډې ګډون والو او مېلمنو ته ښه راغلاست ووایه او بیا یې د هېواد له ټولو ولسونو غوښتنه وکړه چې که غواړو چې په راتلونکی کې یو متحد، پر خپلو پښو ولاړ او د ځمکنی بشپړتیا لرونکی هېواد ولرو، نو باید دغه ستر هدف ته د رسېدو لپاره یو بل ته د ورورۍ لاسونه ورکړو.

ښاغلی همدرد وویل: موږ د بهرنیو توطئو ترڅنګ د خپلمنځي اختلافاتو له امله د مقدس جهاد د میلیوني شهیدانو د ارمانونو په تحقق کې پاتې راغلی یو، چې تر ټولو ستر لامل یې زموږ خپلمنځي اختلافات دي، که غواړو چې د مقدس جهاد د شهیدانو ارمانونو مو (چې هماغه الهي نظام دی) تحقق موندلی وي، باید د سولې او ملي یووالی لاره خپله کړو، تر څو مو د الهي حکم پر ځای کولو ترڅنګ د خپلو شهیدانو دین هم ادا کړی وي.

ښاغلی همدرد د خپلې وینا په بله برخه کې له چارواکو غوښتنه وکړه، چې د ولس ترمنځ دې د مور او میرۍ سلوک پرېږدي،

زموږ خبریال زیاتوي چې ددغه سترې تاریخي غونډې دویم ویناوال د تخار ولایت د ولایتي شورى رئیس مولوی احمدالله و، ښاغلي مولوي صاحب هم پخپل وار د قرآن او حدیثو په رڼا کې د سولې او ملي وحدت په باب ذهن روښانوونکې وینا وکړه او د حزب اسلامي افغانستان ددغه اقدام ستاینه یې وکړه.

وروسته له فاریاب ولایت نه راغلي دیني عالم مولوي فضل هادي له حمد او ثنا وروسته پخپله عالمانه او فصیحه وینا پیل وکړ او د حزب اسلامي افغانستان د سولې او ملي یووالي د پروګرام ملاتړ او مننه یې وکړه، وې ویل: دا اوس زموږ او ستاسی دیني او ملي دنده ده چې خپل ولسونه ددغه ستر او ارزښتناک هدف د لاسته راوړو لپاره سره متحد کړو او خپل ولسونه د اختلاف پر ځای د اتفاق او یووالي لوري ته دعوت کړو، چې هم به مو دیني مسؤولیت سرته رسولی وي او هم به مو که خدای جل جلاله کول خپل هېواد او هېوادوالو ته له ورپېښو ستونزو او مشکلاتو نجات ورکړی وي.

د شهادت اونیزې خبریال لیکي

اسلامي ددې توان لري چې ټولې خورې ورې پرګنې سره راټولې او د سولې او ملي یووالي په رغنده لار روانې کړي.

په خبر کې زیاته شوې چې تر سناتور الحاج نظرمحمد وروسته د بغلان پخواني والي او د ټولګټو وزارت اداري معین مجاهد ورور محمد اکبر بارکزي خپله عالمانه وینا واوروله، د حزب اسلامي افغانستان د سولې او ملي یووالي د سیاست د ملاتړ ترڅنګ څرګنده کړه چې ددغسې یو ستر کار تمه له همدې حزب اسلامي افغانستان بدرګه شو، له حمد او ثنا وروسته یې د غونډې له ګډون والو د نظم د ساتنې او د لرې لرې ولایاتو د راتګ او تکلیف ګالنې له امله مننه وکړه.

ښاغلي ارغندیوال وویل: ورونو ! موږ د مقدس جهاد په دوران کې ډېرې سترې قرباني په ډېر اخلاص سره ورکړې، ډېر لایق او د ګران هېواد او مبارک اسلام د دردونو طبیبان ورونه مو د الله جل جلاله په لاره کې قرباني شول، الله جل جلاله دې د مقدس جهاد د ټولو شهیدانو مرتبې لوړې

حق دی، چې د مظلوم افغان مسلمان ملت د وینو په برکت د وارسا د نظامي پکت له مقابلې نه خلاص شوي دي.

ښاغلي ارغندیوال زیاته کړه: ورونو ! موږ د دومره ستر بري سره سره چې الله جل جلاله راپه برخه کړ، بیا هم د شکر پرځای د نفس په لومو کې راګېر شو، نفسي غوښتنو پر سر واخیستو، خدای جل جلاله او ملت رانه هېر شول، د شهیدانو ارمانونه مو شاته کړل، د ځان غوښتنې په نشه کې له خپلو ورونو سره په دښمنۍ واوښتو او د مقدس جهاد ټولې لاسته راوړنې او د شهیدانو ارمانونه مو هېر کړل.

ورونو ! راځئ چې پر دې خبره باندې فکر وکړو، له ځانونو سره محاسبه وکړو، چې د خپلمنځي اختلافاتو په پایله کې مو څومره زیانونه لیدلي او څه مو ګټلي دي؟ که ګټه او زیانونه یې سره پرتله کړو، نو راته جوته به شي چې د اختلافاتو په دغه ستر ناورین کې مو هر څه بایللي او په ټولنیزه توګه مو هېڅ هم ګټلي نه دي.

ښاغلو او قدرمنو وُرونو ! له ۳۵ کلو را په دېخوا افغان مسلمان ولس له یوه ستر ناورین سره مخ اسلامي، ملي ګوندونو او شخصیتونو ته خلاصه ده، موږ د همدې لارې چې مو اختیار کړې کولای شو یوه منلې او ملي شوری رامنځته کړو، یو ملي پروګرام د اسلام په رڼا کې خپل ملت ته وړاندې کړو او له سیاسي ائتلاف نه وراخوا د اتحاد تر حده په راتلونکیو ټاکنو کې له یوه منلي ملی اسلامي پروګرام سره برخه واخلو. په دې شرط چې چارواکي د ټاکنو پروسه د ملت د باور وړ وګرځوي، شونې ده چې د یوه خپلواک، پرخپلو پښو ولاړ او د خپلو ملي او اسلامي نوامیسو او ځمکنی بشپړتیا څخه د دفاع توان لرونکی الهي نظام په رامنځته کولو د لوی الله جل وعلی شانه، په مرسته بریالی شو.

د غونډې په آخر کې د حزب اسلامي افغانستان د ویاند فضل مولا "لټون" له خوا د غونډې پرېکړه لیک ولوستل شو چې په هره برخه کې د ګډون والو له تاوده هرکلي سره مخ شو.

په پای کې غونډه د حزب اسلامي افغانستان د تنظیم او دعوت د رئیس مولوی سرفراز په دعا سره پای ته ورسېده.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

ناټو به نور پر طالبانو د خلکو په کورونو کې هوایي برید نه شي کولای "جان الن"

نړیوالو ورځپاڼو په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قومندان د پریکړه او د نړیوالو ځواکونو د لاسته راوړنې په اړه مطالب خپاره کړي دي.

نیویارک ټایمز:

نیویارک ټایمز ورځپاڼه په افغانستان کې د ناټو په مشرۍ ایتلافي ځواکونو پر هوایي بریدونو د نویو محدودیتونو په اړه په یوه مطلب کې لیکي، ایتلافي ځواکونه نه شي کولای چې پرطالبانو د خلکو په کورونو بمباري وکړي.

نیویارک ټایمز د پوځي لوړرتبه چارواکو له قوله لیکي چې وایي؛ دغه نوي محدودیتونه په دې هیواد کې د ایتلافي ځواکونو عمومي قومندان د افغانستان په ختیځ لوګر ولایت کې د تیره اونۍ له هغې پیښې وروسته ولګول؛ چې د افغان چارواکو په وینا پریوه کور د ناټوپه هوایي برید کې اتلس ملکي وګړي ووژل شول.

په افغانستان کې د ناټو ځواکونو یوه ویاند "جیمي ګرابیل" وویل، د ملکي افغانانو د خوندي توب په اړه زموږ ژمنې ایجابوي؛ چې د استوګنې پر سیمو د طالبانو په وړاندې اقداماتو کې پرهوایي قوېې محدودیتونه ولګول شي؛ چې دا یواحتیاطي او عقلاني اقدام دی، چې د دغې جګړې د پرمختګ په ترڅ کې کیږي.

د نیویارک ټایمز په وینا له افغان ولسمشر سره د ناټو او امریکایي ځواکونو د قومندان او په دې هېواد کې دامریکا د سفیر له کتنې وروسته د هغه همکارانو د یوه بیان په خپرولو سره وویل؛ چې جنرال جان الن ژمنه وکړه چې د استوګنې پرسیمو او کورونو به ټولې حملې بندې کړي.

خو په هرصورت امریکایي چارواکو وروسته وویل، چې د جان الن دغه امربه دومره زیات د تطبیق وړ نه وي او ویې ویل؛ چې ناټو به د هغو وسله والو پر وړاندې چې له ملکیانو د ډال په توګه کار اخلي خپلو عملیاتو ته دوام ورکړي؛ چې دا په یوه ډول د هغه له امر څخه د په شاتګ څرګندونه کوي.

کریسچېن ساینس مونیټور ورځپاڼې په افغانستان کې د امریکا د یولس کلنې جګړې د لاس ته راوړنو په اړه یو اوږد تحلیلي مطلب خپور کړی؛ چې د پیل په کرښو کې یې د دغې جګړې اوږدوالي او لګښتونو ته اشاره کړې.

ورځپاڼه لیکي، د دغې جګړې نژدې یوولس کاله وځي، چې دا د امریکا په تاریخ کې ترټولو لویه جګړه ده، چې د امریکا د پراختیایي مرستو ۵۷ میلیارډ ډالره پرې لګیدلي؛ د امریکا پوځ پردغې جګړې چې هدف یې د هغه هیواد امن کول دي؛ چې په بشري تاریخ کې د نړۍ هغه هیواد بلل کیږي، چې ترټولو زیات پرې یرغلونه شوي، ۵۱۷ میلیارډ ډالره لګولي دي.

خو ورځپاڼه دا پوښتنه مطرح کوي، چې له دغو ټولو هلوځلو او لګښتونو سره سره امریکا تراوسه په افغانستان کې څه لاس ته راوړي دي.

کریسچېن ساینس مونیټور ورځپاڼې د شویو لاس ته رواړنو په اړه د یوه بشپړ تصویر وړاندې کولو هڅه کړې، د افغانستان په ټولنه کې د مختلفو طبقو له څلورو کسانو سره یې مرکې کړي او د هغوی نظریات یې منعکس کړي دي.

د پوهنتون یوه ښځینه محصله چې د تجارت په نړۍ کې د ځان لپاره ځای پیداکوي، یو وسله وال چې د بهرنیو ځواکونو پر وړاندې د جګړو ملاتړ کوي، یوافغان بیروکرات چې له اداري فساد سره مبارزه کوي او د افغان ملي اردو یو منصبدار چې په پوځ کې دننه له قومي توپیر سره مبارزه کوي.

کریسچېن ساینس مونیټور ورځپاڼې د غه اوږد تحلیلي مطلب د میرمن فوزیه کوفي په دې خبرې پای ته رسولی؛ چې وایي، دا باورنه لري، چې افغانان به بیا اجازه ورکړي، چې لکه د ۱۹۹۰ لسیزې کورنۍ جګړې پیښې تکرار شي چې دوی په قومونو ویشل شوي و او یو د بل په وړاندې جنګیدل.

مخالفت با حکومت نباید مخالفت...

حکومت، نباید مخالفت با منافع ملی باشد؛ مخالفت با حکومت، نباید مخالفت با سرمایه گذاری های مهم خارجی در افغانستان باشد؛ مخالفت با حکومت، نباید به تشویق ناامنی در افغانستان باشد."

این درحالی است که به اساس گزارش های منتشره؛ شورای امنیت ملی، جنرال عبد الرشید دوستم رهبر حزب جنبش ملی و عضو ارشد جبهه ملی افغانستان را به خیانت ملی متهم نموده است.

گزارش ها میرساند که جنرال دوستم، مانع استخراج نفت در حوزۀ دریای آمو در شمال کشور شده است.

حامد کرزی در جواب سوالی در مورد متهم شدن دوستم گفت: "راپور آمد از وزارت مربوطه که برای سرمایه گذاری چینی برای استخراج نفت، ممانعت صورت گرفته و ما دراین زمینه اقدام کردیم و دراین زمینه اتهامی وجود ندارد."

رییس جمهور ممانعت از استخراج نفت را خلاف منفعت ملی خوانده گفت که دراین پروژه، برای تعداد زیادی از افغانها کار پیدا می شود و این پروژه برای اقتصاد کشور نقش ارزنده دارد.

وی در مورد ممانعت استخراج نفت در حوزۀ یادشده، افزود که در این زمینه، اکنون څارنوالی وظیفه دارد تا حقایق را دریابد و با متخلفین برخورد قانونی صورت گیرد.

حامد کرزی در جواب سوالی مبنی بر اینکه اپوزیسیون، وی و کابینۀ حکومت را به خیانت متهم می کنند و حکومت، اپوزیسیون را متهم به خیانت نموده؛ آیا خاین در ارگ موجود است یا بیرون از آن؟ گفت: "شما درده سال حرف های زیادی راجع به مه شنیدین در رسانه ها، از زبان شخصیت های کشور؛ اما هیچ وقت جواب ندادیم و جواب هم نمیدهم، افغانستان از بحران های بزرگ تیرشده و به یک دید دیگري ضرورت دارد؛ پس مه اونها را در چوکات آزادی بیان می بینم، حقیقت و نه حقیقت را زمانی که مه در ریاست جمهوری نبودم معلوم میشه؛ حالی اگر از توان ریاست جمهوری استفاده کنم و جواب بدهم، شاید کتمان حقیقت باشه."

موصوف در مورد عکس العمل حکومت در برابر مخالفین سیاسی حکومت گفت: "مشکلاتی در داخل افغانستان مثل هر کشور دیگری وجود دارد، ولی باید کوشش کنیم که از راهی این مشکلات را حل کنیم که باعث درد و رنج برای مردم نشود، مثلی که در گذشته ها شد؛ فرق ما با گذشته ها این است که دراینجه همه مردم افغانستان جمع استند و همه صاحب این خاک استند."

وی گفت که در ده سال گذشته، در کنار مداخله های خارجی، مشکلات داخلی نیز وجود داشت؛ اما حکومت تلاش کرده که روابط خود را درسطح جهان و منطقه وسیعتر و بهتر بسازد.

رییس جمهور خاطرنشان ساخت که برای بهبود وضعیت داخلی کشور، باید کارهای زیاد صورت گیرد و باید تمام مردم بخاطر قوی ساختن مملکت مشترک کار و تلاش نمایند.

محمود کرزی برادر رییس جمهور گفته است که برادرش قیوم کرزی، خود را برای انتخابات ریاست جمهوری نامزد می کند.

حامد کرزی در این مورد گفت که شنیده است؛ اما برادرش به وی نگفته است.

وی درحالیکه می گفت محمود کرزی منحیث یک فرد افغان می تواند ابراز نظر کند، افزود: "مه شخصاً تاکنون درمورد هیچ کاندیدی فکر نکردیم، خصوصاً راجع به کاندید کردن برادر خود قطعاً فکر نکردیم."

کرزی خاطرنشان کرد که برای راه اندازی انتخابات شفاف و بدون مداخلۀ خارجی ها تلاش های جدی خواهد کرد.

وی گفت: "من نمی خواهم که انتخابات آینده، به سرنوشت انتخابات سال ۲۰۱۰ دچار گردد."

در انتخابات گذشتۀ ریاست جمهوری، از جعل و تقلب گسترده، گزارش هایی به نشر رسیده بود.

اگر اتهامات علیه جنرال دوستم ...

شورای امنیت ملی افغانستان به تازه گی با ارسال نامه خواهان انجام تحقیقات در این زمینه شده است.

آقای نظری علاوه کرد که اگر اتهامات بر این عضو هیات رهبری جبهه ملی ثابت شود، جنرال دوستم به عنوان خاین ملی نیز شناخته خواهد شد:

"کمیته برای بررسی این قضایا تعیین شده است، کمسیون در ظرف دو روز در کابل معلومات جمع آوری می کند و در آخر هفته جهت بررسی قضیه جنرال دوستم به ولایت جوزجان سفر می کند، مجازات برای این چنین کار ها بسیار سنگین است، شاید حبس ابد و یا اعدام باشد."

در عین حال وزارت معادن افغانستان می گوید که شماری از مقام های حکومتی و زورمندان در برابر کار شرکت های چینایی و افغانی در حوزه نفتی آمو دریا موانع ایجاد می کنند.

احمد تمیم عاصی رییس ستراتیژیک و ارتباطات این وزارت در صحبت با رادیو آزادی گفت که برای استخراج نفت از حوزه آمو دریا آنها به تدابیر جدی امنیتی نیاز دارند.

امنیت معادن افغانستان به خصوص حوزه نفت آمو دریا شامل اجندای اجلاس روز یکشنبه شورای امنیت ملی افغانستان بود.

در این جلسه که به ریاست رییس جمهور کرزی برگزار شد، به وزارت داخله وظیفه سپرده شده است تا به منظور تامین امنیت پروژه نفت حوزه آمو دریا در مرحله اول ۳۰۰ تن از نیروهای پولیس را به کار بگمارد و سپس این تعداد را به ۴۵۰ تن افزایش دهد.

از سو دیگر احمد ضیا مسعود رییس جبهه ملی افغانستان به روز دوشنبه در یک کنفرانس خبری در کابل اتهامات وارد شده بالای جنرال دوستم را بی اساس خواند و گفت که این اتهامات توطئه علیه آقای دوستم و جبهه ملی است:

"تمام این اتهامات از طرف جبهه ملی رد می شود ما متهم به هیچ چیزی نیستم ما یک حرکت سیاسی و مدنی هستم و معتقد به قدرت مردم خود هستیم و ما به این باور داریم که در افغانستان واقعاً تحولات سیاسی، اجتماعی و سیاسی عمیق به وجود بیاید تا شرایط خوب برای زندگی مردم ما ایجاد گردد."

مسوولیت استخراج نفت ساحه آمو دریا را یک کمپنی چینایی و یک شرکت افغانی بر عهده دارند.

به اساس معلومات مسوولان وزارت معادن کشور، این دو شرکت خصوصی میلیون ها دالر را در قسمت استخراج نفت حوزه آمو دریا سرمایه گذاری کرده اند و حکومت افغانستان پس از آغاز استخراج نفت از این ساحه، سالانه میلیون ها دالر عاید به دست خواهد آورد.

رییس شرکت پطرولیم چین به تازه گی در دیدار با رییس جمهور کرزی در پیکنگ از وی خواست که اقداماتی در راستای امنیت حوزه نفتی آمو دریا از سوی حکومت افغانستان روی دست گرفته شود.

د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ کې شانداره غونډه وشوه

راپور: غلام علي سالار

د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په خوشګنبد کې د حزب اسلامي افغانستان د متحدینو لخوا یوه شانداره غونډه وشوه.

غونډه د مولوي خدایداد له خوا د قرآن کریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پرانیستل شوه. غونډه کې د بهسودو ولسوالۍ علماء کرامو، جهادي قوماندانانو، قومي سپین ږیرو او په سلګونو ځایي اوسېدونکو ګډون کړې وو.

په یاده غونډه کې پر نورو سربېره په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو استازي انجنیر عبدالغفار قایل، د روداتو ولسوالۍ جید عالم مولوي مختار، د خوشګنبد د ساحوي دفتر مسؤول مولانا غلام حبیب، د ننګرهار پوهنتون علمي مرستیال او د حزب اسلامي د رهبرۍ شورۍ غړی پوهنوال دوکتور دل آقا وقار او د ولایتي دفتر اداري مسؤول قوماندان شمشیر خان په خپل وار ارزښتناکې ویناوې وکړې او د حزب اسلامي غړي یې خپلو مسؤولیتونو ته متوجه کړل.

د یادونې وړ ده چې یاده غونډه د حوزې د ناظم ملک رحمت، ډاکتر ساحل او ډاکتر شاکر په هڅو او هاندو جوړه شوې وه.

غونډه د غرمې په دولسو بجو د قاري شفیع الرحمن په دعائیه پای ته ورسېده.

د ترانزیتي لارې پر سر د امریکا او پاکستان خبرې ناکامې شوې

کابل، رسنۍ:

په افغانستان کې د ناټو ځواکونو لپاره د پاکستان د ترانزیتي لارې د پرانستلو په باب له پاکستاني چارواکو سره د امریکایي پلاوي خبرې بې نتیجې پای ته ورسېدې.

د اسوشیټیدپریس خبري اژانس د راپور له مخې د امریکا دفاع وزارت ویندوی جورج لیټل پرون وویل، پینټاګون خپل پلاوی، چې په اسلام اباد کې یې له پاکستاني چارواکو سره د لارې د بیا پرانستلو په اړه خبرې کولې، بېرته ورغوښتی دی.

پاکستان خپلې ترانزیتي لارې د تېر کال په نومبر کې وروسته له دې بندې کړې چې د ناټو هیلي کوپټرو د پاکستان دوې سرحدي پوستې بمباري کړې او ۲۴ پاکستاني پوځیان یې ووژل.

ناټو او امریکا وایي چې پاکستاني پوستې یې وروسته له دې بمباري کړې چې له دغو پوستو د پاکستان پولې ته نژدې په افغانستان کې پر افغان او نړیوالو ځواکونو ډزې وشوې.

په سرحدي سیمه کې افغان او نړیوال ځواکونه له طالبانو سره په جګړه بوخت ول.

د پینټاګون ویندوی وویل د امریکایي پلاوي نیمایي غړي د رواني اونۍ په پیل کې له اسلام اباده ووتل او پاتې نور به هم ژر ووځي.

ده وویل، که چیرې شرایط بدل شول د امریکایي پلاوي غړي به بېرته پاکستان ته لاړ شي.

لیټل همداراز وویل چې په تېرو دوو ورځو کې د پینټاګون یوه جګپوړي چارواکي پیټر لافوی له پاکستاني چارواکو سره خبرې کړې خو هغه پرې نښوول شو چې د پاکستان د پوځ له لوی درستیز جنرال اشفاق کیاني سره ووینې.

د پاکستان له لورې په افغانستان کې د مېشتو نړیوالو ځواکونو پر مخ د ترانزیتي لارې بندېدا ناټو اړ ایسته چې شمالي لارو ته مخه کړي.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه

د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"

مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې

دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲

مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱

مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.

• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.

• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com